دډاکټر سید نصیر احمد لیکنه



# ډاکټر همایون کامران چې ما پېژانده

## ډاکټر سید نصیر احمد

درنو هیوادوالو!

د سږ کال د فبروري میاشتي په ۲۶ نېټه د ۱۲ بجو شاوخوا مې یو دوست راته تلیفون وکړ او ویې پوښتل، چې د نجیب کامران په نامه یو ځوک په کابل کې پېژني او که نه؟ خو ما ورته وویل که د ډاکټر صیب همایون کامران ورور وي، نو پېژنم یې! ځکه چې یوه موده زما همټولګی ؤ، خو د افغانستان له نا خوالو سره مو دا دي له ۳۰ کلونو راایسه له یو او بل سره نه دي لیدلي، خو په هر صورت خیرت خو ؤ! څه خو به نه وي پېښ شوي؟ نو دوست مې راته وویل، چې ډاکټر صیب همایون کامران نن سهار په حق رسېدلی دی!

له دغه زړه بوږنونکي خبر سره هک پک پاتي شوم، نو خپل دوست ته مې وویل، چې ډاکټر صیب خو لیه ۶۰ کلن شوی هم نه ؤ، نو څه به پېښ شوي وي؟ ډېر وخته یې له دې فاني دنیا سترګې پټې کړې! خدای دې پرې ورحمېږي او د فردوس جنتونه دې یې ورپه برخه کړي! ډاکټر صیب خو ډېر خوشخلقه، د ځانګړي پوهې شخصیت ؤ او افغانانو ته یې په افغانستان کې او په مهاجرت کې ډېرې مرستې کړې وې، خدای دې یې هجرونه ورکړي!

وروسته له دغو خبرو مې د ډاکټر صیب له مېرمنې آغلي دکتورس ګلاندامې سره اړیکې ټینګې کړې او د مرحوم ډاکټر همایون کامران د مړینې په اړه مې مالومات تر لاسه کړل، خپل تسلیت مې ورته څرګند کړ او له څښتن تعالی نه مې ورته د جمیل صبر غوښتنه وکړه! او د همکارۍ وړاندیز مې ورته وکړ، خو پروګرام داسې سنجول شوی ؤ، چې د جنازې لمونځ به د چهارشنبې په ورځ په اوتریخت ښار کې تر سره شي او مییت به یې د جمعې په ورځ افغانستان ته انتقال شي او په پلرنی هدیره کې به خاورو ته وسپارل شي.

دا دي د ډاکټر همايون کامران د مړيني ځومه ورځ ده، خو دوستان يې په اړه يو او بل ته تليفونونه کوي او خپله خواشيني د دغه شخصيت د بې وخته مړينې په اړه څرګندوي او د تېرې چهارشنبې په ورځ يې په جنازه کې په سلهاوو تنو ګډون کړی ؤ او د جنازې لمونځ د اوفرفيخت په سيمه د مراکويانو په جومات کې تر سره شو، چې يو شمېر افغانانو له انګلستانه، جرمني ، بلجيم او يو شمېر نورو اروپايي ملکونو څخه تشريف راوړی ؤ او د جنازې په لمانځه کې يې ګډون وکړ، خو نن سبا ډېر افغانان د وير په ټغر ناست دي او له لويه خدايه مرحوم ډاکټر همايون کامران ته د فردوس جنتونو دعاوې کوي.

له مرحوم ډاکټر صيب همايون کامران سره زما دوستي ډېرې ژورې ريښې لري. ما د لومړي ځل لپاره ډاکټر صيب همايون کامران د جوزجان ولايت د شبرغان په ښار کې زموږ په کور کې وليد، کله چې ډاکټر صيب نوی د شبرغان ښار د عامې روغتيا د آمريت د سرپرست او د داخله ناروغيو د ډاکټر په توګه ګومارل شوی ؤ.

وروسته له يو څه مودې د ډاکټر صيب مور، مېرمن او کشر ورور ښاغلی نجيب کامران، چې اوسمهال د کابل ښار د ښوونې او روزنې رئيس دی، د شبرغان ښار ته راکډه شول، نو د ډاکټر صيب کورنۍ به تل زموږ کورته راتلله او زموږ د کورنيو ډېرې نيژدې اړيکې وې. د ډاکټر صيب پلار مرحوم (احمد جان کامران) زما د پلار ډېر ښه ملګری ؤ او ډاکټر صيب همايون کامران ته هم زما پلار د کشر ورور په سترګه کتل.

له تصادف سره سم د ډاکټر صيب کشری ورور ښاغلی نجيب کامران زما همټولګی شو، چې په ټولګي کې زموږ دويم نومره ؤ، خورا هوښيار او ځيرک ماشوم ؤ، نو د کورني اړيکو پر بنسټ زما او ښاغلي نجيب کامران اړيکې هم ټينګې شوې، خو ژوند داسې راغی، چې وروسته له يوې لنډې مودې ډاکټر صيب همايون کامران بل ځای ته تبديل شو او کورنۍ يې هم له شبرغانه کډه وکړه او زما اړيکې له ښاغلي نجيب کامران سره وشرېدلې او افغانستان هم جنګونو پر سر واخيست.

مګر ژوند له تخنيکي پرمختګ سره غبرګ پر مخ ځي او خلک يو او بل بيا سره ويني او يا پيدا کوي، نو څو ورځې مخکې ما هم د افغانستان د ملي تلويزيون په يوه خپرونه کې د ښاغلي نجيب کامران مرکه له ښاغلي کلاتوال سره وليده، چې د کابل ښار او د افغانستان د ښوونې او روزنې په برخه کې يې مالومات ورکول، نو زه له دې نه وم خبر، چې دوې ورځې وروسته به د تليفون په کرښه د ډاکټر صيب همايون کامران د مړينې خبر هم واورم.

همداسې چې د افغانستان د وروستيو لسيزو د ناخوالو سره ډېر خلک له يو او بله يا ورک شول او يا هم ليرې، نو له ښاغلي همايون کامران سره هم زموږ اړيکې پرې شوې، ځکه چې افغانستان په جګړو کې لاهو شو او د هېواد امنيت له منځه لاړ. له بل پوله په مملکت کې نه تليفوني سهولتونه ول او نه هم ترانسپورتي امکانات. په ١٩٨٥ ميلادي کال زه هم د زده کړو لپاره د بېلاروسيې هېواد ته ولاړم، چې وروسته له ١٩٨٧ ميلادي کاله مې حتی له خپلې کورنۍ سره هم لږ تر لږه د څو کلونو په بهير کې ارتباط قطع شول، يوازې په ١٩٩١ ميلادي کال په دې وتوانېدلم، چې خپل پلار، مور، ورونه او خويندې ووينم، خو وروسته له ١٩٩١ کاله زما اړيکې له افغانستانه سره بشپړ وشرېدلې، مګر د طالبانو له راتګ سره سم په افغانستان کې هلته او دلته موبايل تليفونونه راپيدا شول، نو ما هم وکولی شول، چې وروسته له ١٩٩٨ ميلادي کاله د لومړي ځل لپاره له خپل پلار سره خبرې وکړم او

له خپلې کورنۍ مې واورېدل، چې زموږ مور لیه په ۱۹۹۱ میلادي کال کې په حق رسېدلې ده. د مور مرګ د اولاد لپاره څه مانا او اغېز لري، هغه بیا بېله خبره ده او د دې لیکنې موخه نه ده، ځکه نو دغه لیکنه د مرحوم ډاکتر همایون کامران په ژوند او شخصیت پورې محدودوم.

کله چې وروسته له ۱۹۹۲ میلادي کاله د مهاجرتونو، بله څپه پیل شوه او دا ځل د افغانستان د کمونیستي واکمنیو چارواکي هم دې ته اړ شول، چې بهرنیو ملکونو ته وتښتي او د مهاجرت ژوند خپل کړي، نو ګڼشمېر افغان کډوال د روسیې مسکو ښار ته هم راغلل، نو په مسکو کې ښاغلی ډاکتر همایون کامران د ملل متحد په یوه څانګه کې د افغان مهاجرینو د کومېټې د مشر په توګه وټاکل شو او له ګڼشمېر افغانانو سره یې د مهاجرت په برخه کې مرسته وکړه. هغه مهال زه په بېلاروسیه کې وم او څو ځله مې نیت وکړ، چې مسکو ته ولاړ شم او له ښاغلي ډاکتر صیب همایون کامران سره ووینم، خو له ډېرو مصروفیتونو سره په دې ونه توانېدلم چې ښاغلی ډاکتر همایون کامران په روسیه کې ووینم.

وایي، چې څوک خپل قسمت ته تغیر نه شي ورکولی او هغه به یې په ژوند کې پېښېږي، چې څه یې په تقدیر کې لیکل شوي وي، نو ما هم له ډاکتر صیب همایون کامران سره وروسته له دوو لسیزو په هالند کې ولیدل، چې ژوند بیا له یو ښه، پوه او پاک شخصیت سره مخامخ کړم او د مهربان ډاکتر صیب د پوهې سیورۍ راباندې خپور شو، چې د ډاکتر صیب په هڅونې او سپارښتونو موږ یو شمېر افغانان د دې جوګه شولو، چې په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې بنسټ کېږدو او ښاغلی همایون کامران یې د مشورتي جرګې غړی شو.

د افغاني کلتوري ټولنې په اداره کې د دغه ټولنې مشورتي جرګې خورا غوره رول لوباوه، خو له به مرغه باید یاده شي، چې افغاني کلتوري ټولنې خپل ګڼشمېر درانه غړي د وروستیو څو کلونو په بهیر کې سر بله پسې له لاسه ورکړل ، چې لومړی زموږ خوږ ژبی شاعر عبدالمالک پیغام د موټر په یوه حادثه کې د ۲۰۰۰ میلادي کال د اکتوبر میاشتې په پیل کې په حق ورسېد، بیا زموږ سیاستوال او لیکوال محمد علم بڅرکي له فاني دنیا سره ودا وکړه، څو کاله مخکې مرحوم میرزا علم حمیدي، چې د زړه د ناروغي له کبله وروسته له عملیاته په حق ورسېد، خو تېره اونۍ د افغاني کلتوري ټولنې د مشورتي شورا بل غړی اروابناد ډاکتر همایون کامران هم له وروپېښې ناروغي سره له دې دنیا سترګې پټې کړې او ابدي ژوند یې خپل کړ، خدای دې دوی ټول وبښي او د فردوس جنتونه دې یې ورنصیب کړي.

په نیدرلند کې به ډاکتر صیب همایون کامران تل زما کور ته راتللا او شپې ورځې به یې د افغانستان په اړه خپله خواشیني څرګندوله او د افغانستان د اداري او تحصیلي پرمختګ په اړه به یې خپلې اندېښنې یادولې او دا به یې ویل، چې افغانان باید په پوهه سمبال شي، افغاني ماشومانو ته باید د ښوونې او روزنې امکانات جوړ شي او په افغانستان کې باید امنیت او سوکالي راشي.

ډاکتر همایون کامران به د افغاني کلتوري ټولنې د اداري په برخه کې او د پوهنیزو سیمینارونو د سمون په اړه به یې ډېرې ارزښتناکه مشورې ورکولې او د ټولنې د جوړېدو له پیله د ژوند تر وروستۍ شېبې د ټولنې په ټولو اړخونو کې یو فعال لاربنود ؤ او د ټولنې د کارونو لپاره یې مشورې ډېرې ارزښتناکه او ګټورې وې او تل به یې د ټولنې په غونډو کې فعاله ونډه لرله.

ډاکتر همایون کامران د ډېرو ښو اخلاقو څښتن ؤ او د خپل اولاد تر څنګ یې د نورو افغانانو په ښوونه او روزنه کې ډېر غوره رول لوبولا. په اروپا کې یې د افغاني کلتوري خوځښتونو په ګنشمېر غونډو کې ګډون کولا او په علمي سیمینارونو کې یې فعاله ونډه درلوده. کله به چې د اروپایي ملکونو یوې غونډې ته موږ ګډ تللو، نو د سفر په بهیر کې به په موټر کې یوه ځانګړې فضا وه. د ډاکتر صیب په بنډار به د سفر په ستومانتیا نه پوهېدلو، ځکه چې ډاکتر صیب به د ټولنیز ژوند پېښې د عیني شرایطو او د خلکو په افسانوي کیسو کې رانغښتې وې، چې په هر بحث کې به یې د انسان پام ډېرو ټولنیزو پرابلمونو ته اړولا، خو ډاکتر صیب به یوازې پرابلم نه یادولا، نو هرو مرو به یې د پرابلمونو د حل لاره هم څرګندوله، چې د مرحوم ډاکتر همایون کامران بحث به یې نور هم خوندور او په زړه پورې کړ.

کله چې امریکایانو په ۲۰۰۱ میلادي کال په افغانستان یرغل وکړ، نو ډاکتر صیب لکه نورو افغانانو غوندې ډېر غمجن ؤ، نو هغه شپو ورځوکې یې ماته تلیفون وکړ، چې غواړې زما سره ووینې، نو یوه ورځ زما کره راغی، خو کله به چې ډاکتر صیب زما کره راغی، نو زموږ بنډار به جوړ شو او د افغاني کلتوري ټولنې او د افغانستان د خوالو او ناخوالو په اړه به مو هر اړخیز خبرې وکړې، مګر هغه مهال زما او د ډاکتر صیب خبرې پر امریکایي یرغل پیل شوې او د افغانانو په ناخوالو ختمې شوې، ځکه چې امریکایانو په ژمي کې د سړې هوا، بې کورې او غربت په ترڅ کې پر افغانستان یرغل کړی ؤ، نو زموږ خبرې هم د مظلومو افغانانو د کړېدلو او وژلو په اړه وې.

ډاکتر صیب همایون کامران د خبرو په ترڅ کې راته وویل، چې کله ستا پلار را په یاد شي، نو داسې ګومان کوم، چې د امریکایانو زوال به هم لکه د روسانو غوندې هرومرو په افغانستان کې وینم، نو ما ورته وخندل، چې زموږ مشران وایي، چې هغوی د زېړو غوړیو ځوانان ول، نه لکه نننې ځوانان، چې په نباتي غوړیو یې هډونه غټ شوي دي! نو زما پلار به هم تل ویل، چې ما عمر په زېړو غوړیو تېر کړی، نو ډاکتر صیب کرس په خندا شو او ویې ویل، چې زموږ په مشرانو کې یو خاص ذهنیت او هېوادپالنه وه.

نو ما ورغبرګه کړه، چې څنګه دې د امریکا زوال هغه وخت درپه یاد شي، چې زما پلار دې په ذهن کې دروګرځي، هغه خو نه قوماندان ؤ او نه هم کوم زور واک او نن سبا هم د خدای په هیله ژوند کوي، خو ډاکتر صیب وویل، چې هغه یو قومي مشر دی، د هغه په اغیز او زور ته نه پوهېږې، ښه ویل شوی، چې په خپل کور کې په پیغمبري څوک نه مني.

ډاکتر صیب خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل، چې زه به دې د پلار یوه کیسه درته وکړم، نو ما ورغبرګه کړه ، چې پیل یې کړه او هغه نکل داسې پیل کړ: د ثور انقلاب له پیله، نو ما ورغبرګه کړه، چې د غویو غوبل ښیې، خو ډاکتر صیب بیا په خندا شو، چې سره غمیزه به یې وبولو! نو کله چې زه په شبرغان کې د ډاکتر په توګه وګومارل شوم، نو ته هغه موده، ډېر وړ وې، خو پلار دې زموږ له کورنۍ سره نیژدې اړیکې درلودلې او زه به تل ستاسو کره درتلم او له پلاره سره دې ډېرو ځایونو ته تللم او د ډېرو موضوعاتو په اړه به مو خبرې کولې او مشورې به مو یو او بل ته ورکولې. پلار دې یو ډېر ځانګړی سړی دی، نو یوه ورځ یې راته تلیفون وکړ، چې نن ماښام به په اتو بجو د آقچې په بندر کې له ملکي روغتونه هسک د سرک تر څنګ ودرېږه، چې بیا دواړه یو ځای ته ځو!

ډاکتر صیب زیاته کړه، چې دا مهال مجاهدین نوي پیدا شوي ول او د افغانستان په ښلابښلو سیمو کې یې جنګونه پیل کړي ول، نو ما ورسره ټوکه وکړه، چې مخکې خو دغه بلاوې تاسو اشرار بلل، نو نن څه وشول، چې مجاهد دې یاد کړل! خو ډاکتر صیب په ډېر ورین تندي په موسکا شو، چې نه له پیله مجاهدین ول، ځکه په ملحدینو پسې یې رااخیستي وه، نو داوړو سره وخندل.

ډاکتر صیب خبرې اوږدې کړې او ویې ویل، چې پلار دې دقیق په اتو بجو د شپې د آقچې بندر ته راورسېد، نو په یو روسي جیپ کې په مخکني سېټ کې ناست ؤ. نو ما بیا ورسره ټوکه وکړه، چې زما پلار هم لکه چې د هټلر خبره اورېدلې وه، چې «هر وخت په معین وخت!» نو ځکه دقیق په اتو بجو یې ځان دررسولی ؤ، نو ډاکتر صیب سر وخوځوا او ویې ویل، چې زموږ مشران ډېر قومي خلک دي او پخپلو ژمنو ته وفادار دي، نو ستا پلار هم ډېر جدي او با پرنسیپه سړی دی.

ما ور غبرګه کړه، چې ډاکتر صیبه لنډه دا وایه، چې په کومه خوا یې بوتلې! نو ډاکتر صیب داسې وویل: په کومه خوا یې بوتلم!، چې رښتیا ووایم حتی زه خو اوس هم نه پوهېږم، مګر له ښاره ووتلو او مخه مو په دښته کړه، خو داسې یوه دښته وه، چې نه یې سر مالوم ؤ او نه هم بر، نو لکه د لیلا دښته په خړو شګو پټه وه، چې نن سبا یې غاټول د شهیدانو په وینو روزل کېږي! ډاکتر صیب زیاته کړه: په زړه کې مې تېر کړل، چې نوربابا ما چېرې بیایي، نه چې وژلو ته مې بیایي، ځکه چې ستا د پلار خو له حزبیانو سره هسې هم جوړه نه وه او له بل پلوه ستا پلار ته دا هم مالومه وه، چې زه د حزب یو فعاله غړی وم! زه په خپلو سوچونو کې لاهو وم، چې پلار دې راباندې غږ وکړ! ښېغمه اوسه، تاته څوک پورته هم نشي کتلی! ورته په خندا شوم او ورته مې وویل چېرې چې آغا صاحب تاسو وی، نو زړه مې تل ډاډه وي، خو په زړه کې مې تېره کړه، چې خلک وایي: نوربابا بزرګ دی، نو هغه مهال ستا پلار ما ته هم بزرګ ښکاره شو. ما ورته وخندل او ورغبرګه کړه، چې کله خلک د پېښو تر اغیز راشي، نو ډېر خلک به ورته بزرګان ښکاره شي!. ډاکتر خبره اوږده کړه: زه د خپلو سوچونو په څپو تود وم، چې نوربابا بیا راباندې غږ وکړ: ما درته وویل چې بې ځایه چورتونه مه وهه!

موږ له ۵ ګړیو ډېر مزل په دغو دښتو کې وکړ، چې تر ننه هم نه پوهېږم، چې ستا پلار چېرې بوولی وم. سربېره پر دې، چې د افغانستان ډېرې سیمې مې لیدلې دي، خو هغه ځای مې لیه اوس هم نه دی سېیي کړی! خو وروسته له څو ساعتونو مزله یو داسې ځای ته ورسېدلو، چې چاپېریال ټول غرونه ول او د غرونو په منځ کې داسې یو کلی ؤ، چې د غره لمنې ته یې یوه لویه سوپه درلوده او ګرداګرد یې له لسو نه ډېر ګیسونه چاپېر ول، چې سیمه یې لکه سپوږمۍ روښانه کړې وه، تا به ویل، چې دلته لمر په نیمه شپه کې راختلی!.

کله چې دغه سوپې ته نیژدې زموږ موټر ودرېد، نو زموږ له راتګ سره سم خلک هم له خپلو ځایونو نه راپورته شول، له سوپې راښکته شول او زموږ په لوري رارهي شول، خو په زړه پورې خبره دا وه، چې دغه خلک ټول ډېر قوي هیکله او لکه نوربابا لوړ خلک ول، خو یو توپیر یې درلود، چې ستا د پلار په سر یوه سپینه د سپنسیو خولۍ وه او ږیره یې خرېیلې وه، خو د دغو غرنیو خلکو ږېرې اوږدې وې او د چا په سر لونګۍ وه او د چا هم دستار یا پټکې پر سر ول.

لومړی ټولو په غېږو روغبړ وکړ او ټېرونه یې سره ولګول، خو وروسته له روغبړه ټول په سوپه کېناستل او وروسته د قرآن اعظیم الشان له یوې سورې یې دعا وکړه، وروسته له دعا ډېره مجلله

ډوډۍ راوړل شوه، چي خوند يې اوس هم زما نه هېرېږي. ډوډۍ مو چي وخوړله، نو جرګه پيل شوه او ټولو خبرې وکړې، خو د خبرو لنډيز دا ؤ، چي روسانو په افغانستان يرغل کړی او زموږ يو شمېر افغانان هم ورسره يو ځای شوي دي او په خلکو يې ظلم پيل کړی، افغانستان بې ديني او غلامي ته لمسوي او ملک يې په روسانو خرڅ کړی! نو وروسته له ټولو بحثونو د جرګې پرېکړه وشوه، د روسانو پر ضد د جهاد فيصله وشوه او ټولو په جهاد کې د توفيق او خير دعا وکړه.

د خبرو اترو بهير تر نيمي شپې اوږد شو او په پای کې هر چا ته وظيفې ووېشل شوې او جرګه پای ته ورسېدله. په نيمه شپه کې بيرته ستا له پلاره سره مخ په کور راروان شو، خو په لاره مې له ځانه سره چورت واهه، چي ستا پلار نه له حزبيانو ويره لري او نه هم له جهاديانو، ځکه چي ستا پلار پوهېده چي زه د افغانستان د خلک ديموکراتيک ګوند غړی يم، خو بيا هم ستا پلار په وطنداري او کورني پېژندني پر ما باور کړی ؤ، خو د نوربابا جرئت او مېړانه مې هيڅکله نه ورېرېږي، په رښتيا چې يو ملي او زړه ور شخصيت دی.

وروسته له څو ساعتونو مزله کله چې ښار ته راورسېدلو، نو لومړی يې زه خپل کور ته ورسوم او بيا ستا پلار له موټروانه سره خپل کور ته ولاړ، خو زما ذهن د هغو غرنيو خلکو په خبرو بوخت شو او تل به مې ويل، چي دغه خلک څوک ول او ستا پلار له کومه پيدا کړي ول! مګر ستا له پلاره مې د پوښتني جرئت هم نه درلود، ځکه چي هغه يو مشر سړی ؤ او په خلکو کي يې ډېر نفوذ درلود، نو خامخا يې په هره سيمه کي خلک پېژندل.

له دغه پېښي وروسته زه هم له شبرغانه تبديل شوم او په بېلابېلو دندو وګومارل شوم، خو له هماغه ورځې، چي ستا له پلاره سره مي هغه افغانان وليدل، چي د جهاد د پيلېدو فتوا يې ورکړه، نو ما به تل له ځانه سره ويل، چي که دغه خلک وي، نو د ثور انقلاب نه بريالی کېږي او هر وار به چي مجاهدينو چېرې حمله وکړه او دولتي ځواکونه به يې وځپل، نو په خيال کي به مي ستا پلار مخې ته ودرېد او هغه د نيمي شپې غونډه به مي له سترګو تېره شوه!

په دغه مهال ما له ډاکتر صيب سره ټوکه وکړه: لکه چي له همغه ورځې يې ستا مورال درمات کړی ؤ؟ نو ډاکتر صيب په خندا شو، چي کاشکي يو د مورال خبره وی، بلکې اروا يې راته قبض کړې وه! نو دواړه په خندا شو او د مېړني افغان ملت په مبارزه مو د وياړ تنده ماته کړه.

درنو هيوادوالو! ډاکتر صيب همايون کامران به هر کله ډېرې په زړه پورې پېښې يادولې او زما د پلار يادون به يې راته کولا. وروسته له هر نکله به يې د امريکايانو په اړه ويل، چي دغو بدمرغو بايد ستا له پلاره سره مشوره کړې وی، ځکه چي هغه ته د افغاني ټولنې نبض مالوم ؤ او ويل به يې، چي زموږ خلکو ته وچه ډوډۍ او اوبه راورسېږي، نو خپل هېواد به له پرنګيو او يرغلګرو وژغوري او که کښتې او کشمش وروړسېدل نو له غليم سره به د مرګ تر دمه ډغرې ووهي او شريعت به پلی کړي!

نو کله چي دغه خبرې راپه ياد شي، نو تل ګومان کوم، چي د افغانستان داسې غيرتي خلک دي، چي انشاالله د امريکايانو زوال به هم په افغانستان کې وي، سته به يې ووځي او مختوري به له افغانستانه وشړل شي، خو ډاکتر صيب د خپلو خبرو په ترڅ کي دا وويل، چي له پلاره دي وپوښته چي د امريکايانو په اړه يې هم جهاد پيل کړی او که نه! نو ما ورغبرګه کړه، چي هغه خو اوس له

کلونو اوښتی او ډېر زېږ شوی او د جهاد وسه نلري، خو موږ يې لاره تعقيبوواو انشاالله چې افغانستان به د يرغلګرو هديره شي او بيا به يو خپلواک هيواد شي.

زما او د ډاکتر صيب خبرې تل په زړه پورې او د زړه له کومې وې او ځانګړی خوند يې درلود. د ډاکتر صيب له خبرو ما ډېر څه زده کول او په خبرو کې يې يو ځانګړی فلسفي تحليل ؤ. يوه ورځ يې د ژوند په اړه خبرې کولې او د يو ناشناسه فيلسوف خبره يې ياده کړه، چې ويلي يې ؤ: ژوند لکه يو ګرځنده اورګاډی دی، چې په يو ناڅرګند لوري روان دی، يو ځای او بل ځای ودرېږي او يو څوک ترې ښکته شی، خو ريل خپل مزل ته دوام ورکوي او سورلۍ پکې ناسته وي، تر هغې چې بله ايستګاه راورسېږي او يو څوک ترې ښکته شي، نو ژوند هم همداسې دی، چې د هر چا وخت پوره شي، نو د ژوند له بېړۍ نه ښکته شي او ابدي آرام خپل کړي!

له بده مرغه د ٢٠١١ ميلادي کال د فبرورې په ٢۶ نېټه ښاغلی ډاکتر همايون کامران هم د ژوند له بېړۍ ووت او له فاني دنيا يې مخ ښه کړه او ابدي آرام يې خپل کړ، نو په همدغه ورځ ما هم د خپل خوږ لاربښود، مشر او همکار د مرګ خبر واورېد، چې د خپلې کورنۍ او افغان ملت لپاره ستره ضايعه شوه او زما لپاره زموږ د خوندورو خبرو اترو او ليدو کتلو د پای ټکی شو! خو د مرحوم ډاکتر همايون کامران لارښوونې، ليکنې او د ژوند هڅې به زموږ سره تلپاتې وي، چې د راتلونکې نسل لپاره به د پرمختګ، خپلواکې او انسانيت مثال وي.

په درنښت

ډاکتر سيد نصير احمد

په نيدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې مشر